CORE
Cultural Orientation Resource Exchange

Pashto Version

# د کهوالو لپاره سرچيني



JACQUE WAITE

## په متحده ایالاتو کې هستوګنه

کله چې تاسو لومړی متحده ایالاتو ته ورسیږئ، تاسو ممکن په اپارتمان یا هوټل کې ځای په ځای شئ، یا تاسو ممکن  د خپلوانو سره پاتې شئ چې دمخه په متحده ایالاتو کې میشته شوي. که تاسو مجرد یاست، نو تاسې ممکن د یو شان جنسیت لرونکو نورو مجردو مهاجرو سره استوګن شی.
ستاسو د بیا میشته کیدو اداره به ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو په متحده ایالاتو کې ستاسو د لومړۍ میاشتې په جریان کې کور ولرئ او دوی به د هغه کور په لټه کې وي چې پاک، ارزانه او خوندي چاپیریال کې موقعیت ولري په پیل کې، تاسو به محدود عاید ولرئ، نو ستاسو لومړی کور ممکن ستاسو غوره انتخاب نه وي په هرصورت، د ثابت عاید لرل به تاسو ته اجازه درکړي چې په راتلونکي کې په خپله خوښه کور غوره کړئ، کوم چې ستاسو عاید، اړتیاو او لومړیتوبونو سره مناسب وي.

### فرنیچر




M. COHEN

ستاسو د بیا میشته کیدو اداره په هغه اپارتمان یا کور کې د لومړني فرنیچر او کورني توکو د اینبودلو مسولیت لري چې دوی ستاسو او ستاسو کورنۍ لپاره غوره کړی په توکو کې به فرنیچر، کتان، د پخلنځي وسایل، او د شخصي پاملرنې توکي شامل وي اداره اړه نده چې تاسو ته نوي توکي درکړي. توکي باید په ښه حالت کې وي، مګر اړینه نده چې باید نوي وي.
یو کور یا  اپارتمان معمولا د چولې، د لوښو مینځلو ځای او یخچال لرونکی پخلنځی؛ د اوسیدو او خوړو ساحه یو یا څو د خوب خونې، حمام؛ او الماری لري.


په متحده ایالاتو کې هستوګنه

## اپارتمانونه






KEVIN STANCHFIELD



AUSTIN HAPPEL



## د کور لټښتونه

په متحده ایالاتو کې کورونه ډېری وختونه ګران وي، او د ژوند کولو لپاره مناسب ځای موندل مشکل کیدی شي. دا د خلکو لپاره معمول دی چې کور یا اپارتمان کرایه کړي. د کور لټښت له ایالت څخه ایالت ته، له ښار څخه ښار ته، او حتی له یو ګاونډ څخه بل ته توپیر لري. هرچیرې چې تاسو اوسئ، د کور لټښتونه به ستاسو د میاشتني لګښتونو ترټولو لویه برخه تشکیلوي.

تاسو کولی شئ د خپل اپارتمان یا کور څخه په هغه صورت کې کډه وکړئ چې تاسو خپل مالک/مالکې ته مخکې له مخکې خبر ورکړئ، لکه څنګه چې ستاسو په اجاره لیک کې پرې موافقه شوې وي. مګر خبر اوسئ چې د کډې کولو سره تړلي لګښتونه شتون لري، او تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې مخکې له دې چې تاسو خپله اجاره ختمه کړئ، د کډې کولو د لګښتونو په ورکړې قادر یاست.

## د کور حقونه او مسؤلیتونه




په متحده ایالاتو کې، کرایه کونکي او د کور مالکین حقوق او مسؤلیتونه لري. کله چې تاسو اپارتمان یا کور په کرایه ونیسئ، تاسو باید د اجارې په نوم یو تړون لاسلیک کړئ. په اجاره کې، تاسو کرایه کونکی ګڼل کیږئ، او تاسو موافقه کوئ چې د یو ټاکلي وخت لپاره استوګنځی کرایه کوئ، کرایه او اسانتیاوې په وخت سره ورکوئ، او د استوګنځي ساتنه کوئ. د لاسلیک شوي اجارې ماتول (د اجارې موده پای ته رسیدو دمخه د اپارتمان خالي کول) په نتیجه کې ممکن تاسې جریمه شئ او کولی شي چې ستاسې د اعتبار په درجه باندې منفي اغېزه وکړي. که تاسې بیا هم کډه کوئ، دلته داسې توکي شتون لري چې تاسو یې باید پاملرنه وکړئ پدې کې د متحده ایالاتو حکومت او پوستي دفتر ته خبر ورکول او داسې نور شامل دي. د مهربانۍ له مخې د کډې کولو په صورت کې د خپلې بیا میشتېدنې ادارې څخه د لارښوونې غوښتنه وکړئ.

## د کور مالک مسؤلیتونه



د استوګنځي قانون دواړه د ځمکې مالکینو او کرایه کونکو باندې پلي کیږي. د کور مالکین باید دې ته متوجې واوسې چې استوګنځی یې د کرایې د استوګنځي د خوندیتوب په ځینو خاصو معیارونو او پاکوالي برابر وي. د کور مالک باید ډاډ ترلاسه کړي چې بریښنایی، د اوبو سیستم او د تودوخې سیستمونه په ښه حالت کې دي. دوی باید د سګرټ کشف کونکي چمتو کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې دلته موږکان یا حشرات شتون نلري د هستوګنې قوانین دا هم په ګوته کوي چې د ځمکې مالکین نشي کولی خلکو ته د دوی د نسل، ملیت، مذهب، جنس، کورنۍ وضعیت، یا فزیکي یا رواني حالت له امله د استوګنځي په کرایه ورکولو څخه ډډه وکړي.

## د یو ښه ګاونډي په توګه



ه متحده ایالاتو کې یو ښه ګاونډی هغه څوک دی چې په هغه خلکو پاملرنه کوي چې د هغه/هغې اپارتمان یا کور ته نږدې ژوند کوي. یو ښه ګاونډی په اپارتمان ودانیو کې ګډې سیمې پاکې ساتي که چېرې استوګنځی یو کور وي، نو تاسو باید خپله حویلۍ پاکه وساتئ او یوازې د کثافاتو راټولولو ورځو کې کثافات واچوئ. د پام وړ ګاونډی کیدو معنی دا ده چې تاسو باید د شپې لخوا د شور ماشور او غږونو کچه ترټولو ټیټه وساتئ ترڅو نورو ګاونډیانو ته مو مزاحمت ونه شي.

**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor ● Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**